پر ما یو آیت نازل شوی چې له ټولې دنیا راته غوره او خوښ دی

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: کله چې له حدیبیې څخه د راګرځېدو پر مهال په رسول الله صلی الله علیه وسلم دا آیت نازل شو: {إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا لِيَغْفِرَ لَكَ اللهُ} تر {فَوْزًا عَظِيمًا} پورې [الفتح سورت: له ۱ څخه تر ۵ پورې آیتونه] صحابه کرام ډېر خفه او غمجن ول، حال دا چې خپلې قربانۍ يې په حدیبیه کې ذبح کړې وې، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «پر ما یو آیت نازل شوی چې له ټولې دنیا راته غوره او خوښ دی».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

انس بن مالک رضي الله عنه وایي چې کله په رسول الله صل الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی دا قول نازل شو: {إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا (١) لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا (٢) وَيَنْصُرَكَ اللَّهُ نَصْرًا عَزِيزًا (٣) هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ السَّكِينَةَ فِي قُلُوبِ الْمُؤْمِنِينَ لِيَزْدَادُوا إِيمَانًا مَعَ إِيمَانِهِمْ وَلِلَّهِ جُنُودُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا (٤) لِيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَكَانَ ذَلِكَ عِنْدَ اللَّهِ فَوْزًا عَظِيمًا} [الفتح: ١-٥]، (ښکه تاته مو بری درکړ، یو څرګند بری (١) تر څو الله ستا مخکښۍ او وروستۍ ګناه (ټوله) درته وبښي او خپل نعمت درباندې بشپړ کړي او سیده لار درته وښیي (٢) او مرسته وکړي الله ستاسره مرسته د عزت والا (٣) خاص الله تعالی همغه ذات دی چې رالیږلې يې ده تسلي (یقین) په زړونو د مؤمنانو کې د دې لپاره چې زیات شي ایمان، سره د ایمانه د دوی، او خاص الله تعالی لره دي لښکرې د آسمانونو او ځمکې او الله تعالی ډېر پوه او حکمت والا دی (۴)د دې لپاره چې مؤمنان او مؤمنانې داسې جنتونو ته ننباسي چې ترې لاندې يې ویالې بهېږي، تلپاتې به وي په هغو کې او ګناهونه به ترې ورژوي او د الله په وړاندې دغه یو ستر بری دی (۵). دا آیتونه له حدیبیې څخه د راګرځیدو پر مهال په داسې حال کې نازل شول چې صحابه کرام خفه او غمجن وو، ځکه چې د سولې له امله دوی ونه کړای شول عمره ادا کړي او پدې ګمان وو چې دا کار د مسلمانانو په ګټه نه دی، او همدا رنګه يې خپلې قربانۍ په حدیبیه کې حلالې کړې وې، نو رسول الله صلی الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: یقینا چې پر ما یو آیت نازل شو چې هغه ما ته له دې دنیا او څه چې پکې دي غوره دی او بیا يې ولوست.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65787